عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپرېدل: عمومي
۵ سپټمبر ۲۰۲۵
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**اتیایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**په افغانستان کې وضعیت**

**امنیت شورا**
**یو اتیایم کال**

## په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۷۹/۳۱۷ ګڼه پرېکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي غوښتل شوي څو په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د وضعیت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه، د ولایتي کچې په ګډون، راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر په ۳ نېټه خپور شوي راپور (A/80/556-S/2025/789) راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو لکه سیاسي، بشردوستانه، او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند بدلونونه

۳. د طالبانو واکمنو چارواکو د افغانستان په ملي قلمرو باندې خپل اغېزمن کنټرول ساتلی دی او په ورته وخت کې یې د خپل اسلامي نظام نسخې سره د هغو پالیسیو تقویه کولو او پلي کولو ته دوام ورکړی، چې د ښځو او نجونو حقونه محدودوي. واکمنو چارواکو همدا راز د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځینه کارکوونکو په ورتګ بندیز لا هم پر خپل ځای دی. د پولې هاخوا له پاکستان سره د جګړو زیاتوالی چې پکې د درنو وسلو ډزې، هوایي بریدونه او د بې‌پیلوټه الوتکو فعالیتونه شامل وو او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې او شتمنیو ته د زیان رسېدنې لامل شول. د بشري حقونو سرغړونې، په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو په ګډون، لا هم په پراخه کچه زیاتې دي؛ چې پکې بدني مجازات، قصاص، خپل‌سري نیونې او د بیان ازادۍ او رسنیو پر فعالیت محدودیتونه شامل وو. بشردوستانه او اقتصادي وضعیت هم د نړیوالو مرستو کمېدو، د بشردوستانه غبرګون لپاره د بودیجې د سخت کمښت، له ګاونډیو هېوادونو څخه په پراخه کچه د افغان کډوالو راستنېدو، وچکالۍ او زیاتو اقلیمي بدلونونو، د سترو زلزلو وروسته خراب وضعیت او د خوړو ناامنۍ، خوارځواکۍ او د عامې روغتیا خطرونو زیاتېدو له امله لا پسې خراب شو. د ۲۰۲۶ زېږدیز کال لپاره د افغانستان د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان کې د ۱،۷۱ میلیارده ډالرو مرستې غوښتنه شوې، څو د ۲۱،۹ میلیونه اړمنو له ډلې ۱۷،۵ میلیونه خلکو ته لومړنۍ او ژوند ژغورونکې مرستې ورسوي.

## الف. سیاسي بدلونونه

۴. واکمنو چارواکو په ولسي غونډو، د څارنې ماموریتونو او ولایتي سفرونو کې، د دیني مدرسو د دستاربندۍ په مراسمو کې د لوړ پوړو واکمنو چارواکو د ویناوو په ګډون، پر یووالي، اطاعت، شرعي حکومتولۍ، د وړتیا پر بنسټ ادارو جوړولو او د نژادي تبعیض پر نه منلو ټینګار کړی. په ورته وخت کې، د واکمنو چارواکو مشرتابه په خپلو پیغامونو کې د طالبانو د مشر پر وړاندې د وفادارۍ پر اهمیت یو ځل بیا ټینګار وکړ او د کورنیو اختلافاتو اوازې یې رد کړې. دا هڅې په ټول هېواد کې په دینو مدارسو کې د خورا زیات فعالیت سره مل وې، چې دا چاره د مذهبي واک مرکزي رول په ډاګه کوي.

۵. د طالبانو مشر هبت الله اخُندزاده د نومبر په ۵ نېټه رسنیو ته په یو لیږل شوي غږیز پیغام کې د مخکني افغانستان اسلامي جمهوریت په قانوني چوکاټ باندې نیوکه کړې او "دیموکراتیک" او "غیر اسلامي" نظامونه یې په کلکه رد کړي دي، او ټینګار یې کړی چې قوانین باید یوازې د قران او احادیثو پر بنسټ جوړ شي. نوموړي د ډسمبر په ۱۶ نېټه په کندهار کې د واکمنو چارواکو په ګډون یو درې ورځني سیمینار ته په وینا کې ټینګار کړی چې د دولتي ادارو کار د هغوی دیني مکلفیت دی او یو ځل بیا یې هغوی ته د نظم او دسپلین او حکومتولۍ په اړه لارښوونې کړې. د راپورونو له مخې، د نوموړي د لارښوونو پر بنسټ د جنورۍ په ۵ نېټه د واکمنو چارواکو لخوا د دیني او مذهبي چارواکو په معاشونو کې زیاتوالی د هغه لخوا منظور شو.

۶. د واکمنو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزیر، محمد خالد حنفي د نومبر په ۲۲ نېټه په یوه غږیز پیغام کې وویل چې زده کړه به یوازې د قران او دیني عالمانو لخوا په یو تعریف شوي چوکاټ کې ترسره کېږي. نوموړي پر اجباري حجاب او اخلاقي مکلفیاتو ټینګار وکړ او د نجونو او ښځو د منځینو او لوړو زده کړو د بیا پیل مهالویش او ټاکلې مودې په اړه یې څه ونه ویل. د واکمنو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت او د کابل ولایتي چارواکو د نومبر په ۲۳ نېټه له دیني عالمانو، مشرانو، چارواکو او ځایي اوسېدونکو سره یوه غونډه جوړه کړه او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون په تطبیق، د یووالي په راوستلو، اسلامي نظام ملاتړ او ناسمو معلوماتو او بهرنۍ مداخلې پر وړاندې مبارزې کې یې ترې د همکارۍ غوښتنه وکړه. د واکمنو دغه وزیر د ډسمبر په لومړۍ نېټه په بلخ او د ډسمبر په ۱۵ نېټه په نورستان کې له واکمنو چارواکو او دیني عالمانو سره غونډې درلودې، چې د دې قانون د جدي تطبیق، رسمي دسپلین، یووالي او دیني مسؤولیت پر اړتیا باندې یې ټینګار وکړ. نوموړي د جنورۍ په ۴ نېټه په یوه غږیز پیغام کې محتسبینو ته لارښوونه وکړه چې شرعي قوانین په جدي توګه رعایت کړي، د خلکو نیوکو ته پام ونکړي او د دې قانون په تطبیق کې اصلاحاتو او نظم ته لومړیتوب ورکړي.

۷. د واکمنو چارواکو لخوا د ۲۰۲۵ کال سپټمبر له ۷ نېټې راهیسې لا هم د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځینه کارکوونکو پر ورتګ لګول شوي محدودیتونه پرځای دي او په جدي توګه تطبیق کېږي. ملګرو ملتونو د واکمنو چارواکو له لوړ پوړو استازو سره په لیدنو کې له هغوی په ټینګه غوښتې څو دغه بندیزونه لرې کړي.

۸. د واکمنو د عدلیې وزارت لخوا د نومبر په ۸ نېټه د یاد وزارت لخوا د خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان جوړولو له اعلان وروسته، چې موخه یې د نورو مسایلو ترڅنګ د شریعت پر بنسټ عدالت او خدمتونو رسولو ته د لاسرسي زیاتول دي، یو ترتیب شوی پلان د واکمنو وزارتونو ته د هغوی د معلوماتو لپاره د متحدالمال په بڼه لیږلی دی. د واکمنو مرستیال ویاند د ډسمبر په ۹ نېټه د اداري فساد، ځمکو د غصب او اختلاس له منځه وړلو لپاره پر خپلې ژمنتیا ټینګار وکړ او د دولتي ادارو د څانې او اداري پروسو د ساده کولو ژمنه یې وکړه.

۹. د واکمنو سترې محکمې د جنورۍ په ۸ نېټه ټولو محکمو ته یو متحدالمال واستوه چې پکې د"جزايي اصولنامې" په اړه په وروستیو کې د تصویب شوي، جنورۍ ۵ نېټې ۱۲ ګڼه فرمان، د تطبیق لارښوونه او غوښتنه شوې ده. دغه فرمان هغه جرمونه لا زیاتوي چې د اعدام سزا پرې تطبیقېږي، د ګڼو جرمونو لپاره د بدني مجازاتو ورکولو اجازه ورکوي، او داسې احکام لري چې پر واکمنو چارواکو او د دوی پر پالیسیو نیوکه د جرم په توګه ګڼلو له امله د مذهبي ازادۍ او د بیان ازادۍ څخه سرغړونه کوي.

۱۰. د واکمنو چارواکو لخوا د رهبرۍ په کچه دندو لپاره د خپلو نارینه وفادارو کسانو ګمارنې لا هم دوام لري. په ملي کچه د اوبو او انرژۍ او کلیو بیارغونې او پراختیا دوه وزیران؛ د کار او ټولنیزو چارو، ټولګټو، کلیو بیارغونې او پراختیا او ښاري پراختیا او کور جوړونې ۴ معینان؛ او د واکمنو د چارو ادارې، بهرنیو چارو وزارت، اطلاعاتو او کلتور او برېښنا شرکت اته رئیسان تغیر او تبدیل شوي دي. په ولایتي کچه د بامیان، دایکنډي، جوزجان، پروان او سرپل ولایتونو لپاره ۵ والیان؛ د بدخشان، لغمان، ننګرهار، نیمروز او تخار ولایتونو لپاره ۵ مرستیال والیان؛ ۳۲ ولسوالان؛ ۳ د ولایتونو د مرکزونو ښاروالان؛ د لغمان، پکتیکا او سمنګان ولایتونو لپاره ۳ امنیه قوماندانان؛ او د ولایتونو د اړوندو ریاستونو لپاره ۲۲ رئیسان ګمارل شوي دي.

۱۱. د راپور ورکونې مودې پر مهال په غزني، وردګ، پکتیا، دایکنډي او فراه ولایتونو کې نهه (۹) نوې مدرسې جوړې شوې. په بدخشان، بلخ، بادغیس، غزني، سمنګان، فراه، لوګر، پکتیکا، وردګ، کابل او زابل ولایتونو کې د دستار بندۍ مراسم نیول شوي وو، چې په کې ۱۵۶۰ نارینه او ۴۱۳ ښځې له دغو مدرسو او ۷۰۹ نارینه له جهادي مدرسو څخه فارغ شول.

۱۲. د راپور ورکونې مودې پر مهال د واکمنو د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې راپور ورکړی چې د شاوخوا ۶۹۸۷ ملکي کارکوونکو لپاره یې په ټول هېواد کې ۱۰۵ روزنیز پروګرامونه او سیمینارونه په لاره اچولي دي. په دغو روزنیزو پروګرامونو کې د مکاتباتو، ستراتیژیک پلان جوړونې، څارنې، د کاري اجراآتو د ارزونې، د ملکي خدمتونو د چلند مقرراتو مدیریتي اساساتو اړوند یو لړ موضوعات تدریس کړي دي. د ۲۰۲۱ کال نه مخکې مودې څخه پر دندو پاتې ملکي مامورینو پر ځای د طالبانو اړوند دیني مدرسو څخه فارغ اشخاص پر دندو ګمارل کېږي.

۱۳. د واکمنو د مالیې وزارت په ډسمبر میاشت کې متقاعدینو ته د خپلو حقونو د ورکړې لړۍ پیل کړه. دغه حقوق چې ورکړه یې د ۲۰۲۱ کال له اګسټ میاشتې راهیسې ځنډېدلې وه، په دې شرط بېرته پیل شوه چې متقاعدین به یوې ځانګړې محکمې ته عارض کېږي او له هغې لارې به یې په شرایطو برابروالی تائید کېږي. د ډسمبر په ۲۵ نېټه د رسنیو لخوا ورکړل شوي راپورونه په ډاګه کوي چې د دغې محکمې لخوا د واکمنو د ۳۰ ادارو او ریاستونو د شاوخوا ۱۱۰۰۰ متقاعدینو د عرض پاڼو له کتلو وروسته، د تقاعد حقونو د ورکړې لپاره مستحق بلل شوي دي. خو د متقاعدینو ټولنې اندیښنه څرګنده کړې چې په شرایطو برابروالي معیارونه ښايي په زیات شمېر کې پخواني متقاعدین له خپلو حقونو څخه محروم کړي.

۱۴. سعودي عربستان په نومبر میاشت کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې دواړو غاړو ته د ټاوتریخوالي د له منځه وړلو په موخه د مذاکراتو تسهیل او کوربتوب کړی، چې د راپورونو له مخې په ریاض کې ترسره شول. د راپورونو له مخې ویل کېږي چې دواړو لورو په تېر اکتوبر کې په دوحه کې د مذاکراتو پر مهال د منل شوي اوربند پر دوام هوکړه کړې ده.

۱۵. د یوناما ساحوي دفترونو د اکتوبر ۲۷ او جنورۍ ۲۵ ترمنځ موده کې د اړیکو او سلا مشورو ۱۹۲ فعالیتونه ترسره کړل، چې پکې د افغانستان د مدني ټولنې استازو، قومي مشرانو، خبریالانو، متشبثینو او د ښځو فعالانو ګډون درلود. ګډونوالو بېلابېلې اندېښنې څرګندې کړې، چې پکې د ۲۰۲۴ کال د"امر بالمعروف او نهی عن المنکر" قانون له پلي کېدو وروسته د مدني

فضا دوامداره تنګېدل، د نارینه‌وو او ښځو دواړو لپاره د زده‌کړو خنډونه، د کار محدود فرصتونه، د اوبو سخت کمښت او د اقلیمي بدلون اغېزې، د ټولنیزو او اقتصادي اسانتیاوو کموالی، او د حکومتولی له جوړښتونو څخه د غیر طالب افغانانو ایستل شامل وو.

۱۶.   په سیاسي او سولې جوړونې چارو کې د سرمنشي مرستیالې د جنورۍ له ۲۳ نېټې څخه تر ۲۵ نېټې پورې کابل ته سفر وکړ. نوموړې د خپل دې سفر په ترڅ کې له واکمنو چارواکو، په کابل کې ډیپلوماتیکې ټولنې، افغان مېرمنو، د مدني ټولنې استازو او د ملګرو ملتونو افغان ښځینه کارکوونکو سره ولیدل. هغې له واکمنو چارواکو سره په خپلو لیدنو کې د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځینه کارکوونکو پر ورتګ د بندیز او همدا راز د ښځو پر زده کړو، کار او عامه ژوند باندې د پراخو محدودیتونو له امله اندیښنه وښوده، او په ټینګه یې ترې غوښتنه وکړه څو یاد بندیزونه لرې کړي. نوموړې له واکمنو چاراوکو غوښتې چې د وړاندیز شوې جامع طرحې په چوکاټ کې بشپړ تعامل وکړي او له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د بېرته یوځای کېدو په موخه د افغانستان اړین نړیوال مکلفیتونه پوره کړي. واکمنو چاراواکو هوکړه وکړه چې له ملګرو ملتونو سره به خپل تعامل ته دوام ورکړي.

۱۷.   ملګرو ملتونو د افغانستان لپاره د وړاندیز شوې جامع طرحې، او د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۲۰۲۳ کال (۲۷۲۱) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ، له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د بېرته یوځای کېدو او خپلو نړیوالو ملکفیتونو، په تېره بیا د بشري حقونو او ښځو حقونو، پوره کولو په موخه د افغانانو د ګټې لپاره له نړیوالې ټولنې، واکمنو چاراواکو او افغان ذینفع شریکانو سره تعامل لا هم دوام لري.

### ب. امنیت

۱۸.   ملګرو ملتونو د نومبر له لومړۍ نېټې څخه تر جنورۍ ۳۱ نېټې پورې، ۲۶۶۰ امنیتي او د خوندیتوب پېښې ثبت کړي دي، چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۲۷،۸ سلنه زیاتوالی ښیي.

۱۹.   وسله والو مخالفو ډلو د نومبر له لومړۍ نېټې څخه تر جنورۍ ۳۱ نېټې پورې، د واکمنو چارواکو لخوا پر ملي قلمرو د کنټرول پر وړاندې کوم د پام وړ ننګونه نده رامنځته کړې. د افغانستان د آزادۍ جبهې، ملي مقاومت جبهې، د ملي انسجام جبهې، د افغانستان د خلکو د ازادۍ اسلامي حرکت او د افغانستان د آزادۍ غورځنګ په بدخشان، بلخ، فاریاب، هرات، کونړ، کندز، کابل، کندهار، لوګر او پنجشیر ولایتونو کې د ټولټال ۳۶ پېښو مسؤولیت منلی، چې له ډلې یې ۱۴ پېښې تثبیت شوې دي. په دغو پېښو کې د راکټونو او لاسي بمونو خال خال بریدونه او د واکمنو چارواکو پر پوستو او کاروانونو ډزې شاملې دي.

۲۰.   په کابل ښار کې د چینایانو یو رستورانت دننه د جنورۍ په ۱۹ نېټه چاودنه وشوه. د عراق او ختیځ خراسان اسلامي دولت (داعش) د ځانمرګي بریدګر د انځور په خپرولو سره د دغه برید مسؤولیت ومانه. واکمن چارواکي لا هم د دې ډلې پر وړاندې اقدامات کوي، چې ارزونې ښيي دې ډلې لا هم خپله عملیاتي او محاربوي وړتیا ساتلې ده (S/2026/44 وګورئ).

۲۱.   د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان سره د سرحدي سیمو په اوږدو کې د نومبر له لومړۍ نېټې څخه تر جنورۍ ۳۱ نېټې پورې څو پېښې رامنځته شوي دي. د واکمنو او پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ د نومبر په ۶ نېټه نښته رامنځته شوه، چې په کندهار ولایت کې یې ملکي سیمو او زېربناوو ته زیانونه واړول، په داسې حال کې چې د واکمنو امنیتي ځواکونو او د ایران امنیتي

ځواکونو ترمنځ د نیمروز ولایت کې پر پوله نښته رامنځته شوه، چې په پایله کې یې پوله د لنډې مودې لپاره وتړل شوه. د واکمنو او پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ د نومبر په په ۹ او ۱۱ نېټه په خوست او پکتیکا ولایتونو کې پر پوله د سپکو وسلو ډزې تبادله شوې. همدارنګه د ډسمبر په ۴ نېټه پر هغو کسانو ډزې وشوې چې له پکتیکا ولایت څخه پاکستان ته د اوښتلو هڅه یې کوله. د واکمنو او پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ د ډسمبر په ۵ نېټه په کندهار ولایت کې په دوو ځایونو کې نښتې رامنځته شوې. د جنورۍ ۷ او ۱۷ نېټې ترمنځ موده کې په کونړ ولایت کې د افغانستان او پاکستان د پولې په اوږدو کې څو ځلې نښتې وشوې. د کندهار په معروف ولسوالۍ کې د جنورۍ په ۱۹ او ۲۰ نېټه د افغانستان او پاکستان د پولې په اوږدو کې هم نښتې رامنځته شوې. د واکمنو او پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ د جنورۍ په ۳۱ نېټه د ننګرهار ولایت په لعلپورې ولسوالۍ کې هغه مهال د هاوان او درنو وسلو ډزې تبادله شوې چې د راپورونو له مخې پاکستاني ځواکونو پر پوله لګول شوو کټارو سره نږدې د یو ټاور پر جوړولو پیل وکړ.

۲۲. د ډسمبر په ۲۴ او د جنورۍ په ۱۸ او ۲۴ نېټو راپورونه وایي چې د تاجکستان سرحدي ځواکونه له هغو کسانو سره په جګړه واوښتل چې هڅه یې کوله د افغانستان له بدخشان ولایت څخه تاجکستان ته واوړي، چې په پایله کې یې ملکیانو ته مرګ ژوبله واوښته.

۲۳. د نومبر له لومړۍ نېټې څخه تر جنورۍ ۳۱ نېټې پورې په افغانستان کې د څو هوايي بریدونو او بې پیلوټه الوتکو د کړنو راپور ورکړل شوی دی. په غزني، کندهار، خوست، وردګ، پنجشیر او پکتیکا ولایتونو په ولسوالیو کې خلکو د بې پیلوټه الوتکو ګزمې لیدلې دي. د نومبر په ۴ نېټه په ننګرهار ولایت کې په یوه جومات بې پیلوټه الوتکې برید وکړ چې په پایله کې یې د پاکستاني طالبانو د تحریک لوی قوماندان ووژل شو. په خوست، کونړ او پکتیکا ولایتونو کې د نومبر په ۲۵ نېټه او په غزني ولایت کې د ډسمبر په ۳ او ۱۴ نېټه هوايي بریدونه ترسره شوي دي. د ډسمبر په ۱۳ نېټه په کونړ ولایت کې یو شخصي استوګنځي ته څېرمه یوې چاودنې د پاکستاني طالبانو د تحریک درې شکمن غړي ووژل، او د جنورۍ په ۱۳ نېټه د ننګرهار ولایت په ګوشتې ولسوالۍ د بې پیلوټه الوتکې د برید راپور ورکړل شو، چې په پایله کې یې ملکیان ټپیان شول.

۲۵. ملګرو ملتونو د نومبر له لومړۍ نېټې څخه تر جنورۍ ۳۱ نېټې پورې، ۴۷ امنیتي او د خوندیتابه پېښې چې د دې سازمان پر کارکوونکو مستقیمه اغېزه لري، ثبت کړي دي، په داسې حال کې چې د تېر کال په ورته موده کې دا شمېره ۴۲ وه. د واکمنو د ملي دفاع وزارت په کابل کې د ملګرو ملتونو دفترونو ته د یاد سازمان د افغان ښځینه کارکوونکو پر ورتګ د بندیزونو لګولو مسؤولیت د واکمنو د کورنیو چارو وزارت ته تائید کړ. دغه بندیز لا له وړاندې له کابل څخه بهر په نورو ولایتونو کې د ملګرو ملتونو پر دفترونو پلې شوی و.

### ج. سیمه ایزه همکاري

۲۵. د ایران ولسمشر، مسعود پزشکیان او د قزاقستان ولسمشر، قاسم جومارت توکایف د ډسمبر په ۱۲ نېټه په عشق اباد کې د سولې او باور نړیوالې غونډې په حاشیه کې یوه ګډه اعلامیه خپره کړه، چې پکې د یو باثباته او امن افغانستان پر اهمیت ټینګار شوی و. د چین، ایران، پاکستان، روسیې، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ځانګړو استازو د ډسمبر په ۱۴ نېټه د افغانستان پر وضعیت د بحث او ارزولو په موخه په تهران کې غونډه وکړه. راپورونه وایي چې ګډونوالو د سیمه‌ییزو خبرو اترو پر اهمیت، د افغانستان له خاورې څخه سیمې ته د ترهګرۍ ګواښ، او د سیمه‌ییز ثبات او اقتصادي همغږۍ پر اړتیا ټینګار وکړ. د «مرکزي اسیا جمع جاپان» د خبرو اترو د لومړۍ سرمشریزې د ډسمبر په ۱۲ نېټه په توکیو اعلامیه کې، ګډونوالو چې د

هېوادونو د دولتونو او حکومتونو مشران هم پکې شامل وو، يو ځل بيا په افغانستان کې د وضعيت د ثبات په اړه خپله ليوالتيا څرګنده کړه.

۲۶. د چين او پاکستان د بهرنيو چارو وزيرانو د جنورۍ په ۴ نېټه په بيجينګ کې د ستراتيژيکو خبرو اترو وروسته، دواړو هېوادونو په يوه ګډه اعلاميه کې، هوکړه وکړه چې له نړيوالې ټولنې سره په ګډه کار وکړي څو واکمن چارواکي وهڅوي چې يو ټولګډونه سياسي چوکاټ جوړ کړي، معتدلې پاليسۍ غوره کړي، پر باثباته پرمختګ تمرکز وکړي او د ښه ګاونډيتوب سياست تعقيب کړي، او همدارنګه له افغانستان سره مرسته وکړي چې بېرته نړيوالې ټولنې سره يوځای شي. هغوی همدا راز غوښتنه وکړه چې د افغانستان په خاوره کې مېشتو ټولو ترهګرو ډلو له منځه وړلو لپاره ښکاره او د تاييد وړ اقدامات ترسره شي، ځکه دا ډلې د سيمې او نړۍ امنيت ګواښي، او بايد مخه يې ونيول شي څو ترهګرې ډلې د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو د ګواښلو لپاره ونه کاروي.

۲۷. د ترکمنستان ملي مشر او د دې هېواد د سنا جرګې مشر، قربانقلي بيردي محمدوف د اکتوبر په ۲۰ نېټه په هرات ولايت کې د ټاپي ګازو نل ليکې پروژې رغنيزې ساحې څخه ليدنه وکړه څو د افغانستان په خاوره کې د يادې پروژې پرمختګ وارزوي. د اسلامي همکاريو سازمان د عمومي منشي مرستيال او د افغانستان لپاره د دې سازمان ځانګړي استازي، طارق علي بخيت د نومبر په ۱۲ نېټه په کابل کې د واکمنو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزير، د لوړو زده کړو وزير، شيخ ندا محمد نديم او د واکمنو د سرې مياشتې رئيس، شيخ شهاب الدين دلاور سره وليدل. د تاجکستان يو لوړ پوړي پلاوي د ځانګړي استازي، خسرو صاحبزاده په مشرۍ د نومبر له ۱۵ نېټې څخه تر ۱۸ نېټې پورې د واکمنو رئيس الوزراء، محمد حسن اخوند، بهرنيو چارو وزير، امير خان متقي، سرحدونو او قومونو قبايلو چارو وزير، نورالله نوري، او د واکمنو د استخباراتو عمومي رئيس، عبدالحق وثيق سره وليدل. د دوی ترمنځ په يادو غونډو کې پر پراخو امنيتي او دوه اړخيزو اړيکو بحثونه وشول.

۲۸. د قزاقستان ځانګړي استازي، يرکين توکوموف د ډسمبر په ۹ نېټه د واکمنو د بهرنيو چارو وزير او کورنيو چارو وزير، سراج الدين حقاني سره وکتل او د سوداګرۍ، اقتصادي پروژو، د پولې امنيت او نشه اي توکو پر وړاندې مبارزې په هکله يې بحث او خبرې اترې وکړې. د قرغيزستان د اقتصاد او سوداګرۍ وزير، باکيت سيديکوف د ډسمبر په ۱۷ نېټه د واکمنو د رياست الوزراء له اداري مرستيال، عبدالسلام حنفي او د صنعت او سوداګرۍ وزير، نورالدين عزيزي سره وکتل او په اقتصادي مسايلو د بحث ترڅنګ يې په کابل کې د قرغيزستان سوداګرۍ مرکز پرانيسته وکړه. د ترکمنستان د وزيرانو شورا مرستيال او د بهرنيو چارو وزير، رشيد مرادوف په هرات ولايت کې د واکمنو د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال، عبدالغني برادر سره وکتل او د ټاپي ګازو نل ليکې په څېر د پولې په اوږدو کې پروژو په هکله يې بحث او خبرې اترې وکړې.

۲۹. د واکمنو د عامې روغتيا وزير، نورجلال جلالي د ډسمبر له ۱۶ نېټې څخه تر ۲۱ نېټې پورې د يو پلاوي په مشرۍ نوي ډهلي ته سفر وکړ، چې هلته يې د روغتيا نړيوال سازمان د سنتي طب په دويمه نړيواله سرمشريزه کې ګډون وکړ او په ترڅ کې يې د ياد هېواد د روغتيا او کورنۍ هوساينې له وزير، جګت پراکاش ندا، په بهرنيو اړيکو کې د دولت وزير، کيرتي وردان سينګ او د آيوش وزارت (آيورويد، يوګا او طبيعي درملنه، يوناني، سيدها او هوميوپيتي) د وزير مرستيال، پراتاپارو يادف سره د روغتيا په سکتور کې پر همکارۍ بحث او خبرې اترې وکړې. د واکمنو د لوړو زده‌کړو وزير د جنورۍ له ۱۱ نېټې څخه تر ۱۳ نېټې پورې، عمان ته سفر وکړ او هلته يې د عمان د لوړو زده‌کړو وزارت چارواکو سره وکتل او د دوه اړخيزو اکاډميکو او علمي همکاريو پر پياوړتيا يې خبرې وکړې.

۳۰.        یوناما له کابل میشتو دیپلوماتیکو ماموریتونو سره د لیدنو کتنو برابرولو او د افغانانو، په تېره بیا واکمنو چارواکو او نورو افغان ذینفع شریکانو او سیمه ایزو فعالانو ترمنځ د ترانسپورت، سوداګرۍ، چاپیریال او بشردوستانه دهلیزونو ته د لاسرسي په برخو کې د تعامل او ګډې همکارۍ رامنځته کولو له لارې د سیمه ایزې همکارۍ ملاتړ ته دوام ورکړی. په سیاسي چارو کې د سرمنشي د ځانګړي استازي مرستیالې او د یوناما سرپرستې مشرې د قزاقستان په الماتهِ ښار کې د مرکزي آسیا هېوادونو د بهرنیو چارو مرستیال وزیرانو په غونډه کې، چې د مرکزي آسیا د مخنیوي کوونکې دیپلوماسۍ لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه ایز مرکز لخوا جوړه شوې وه، ګډون وکړ.

## دریم: بشري حقونه

۳۱.        د واکمنو امنیتي ځواکونو او پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ د راپور ورکونې مودې پر مهال، د وسله والو نښتو په پایله کې په افغانستان کې ۵۰ ملکي وګړي مړه او ټپیان شوي دي (۲۴ مړه او ۲۶ ټپیان). د دغې مرګ ژوبلې زیاته برخه د هوایي بریدونو او پر پوله د درنو مرمیو توغولو له امله په کندهار، خوست، پکتیکا، ننګرهار او کونړ ولایتونو کې رامنځته شوې ده. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د ډسمبر په ۲۸ نېټه په یوه لیک کې یوناما ته خبر ورکړ چې سره له دې چې پاکستان له واکمنو چارواکو سره معلومات شریک کړي، "د واکمنو امنیتي ځواکونه هغه مهال چې پاکستاني پوځیان خپل لوري ته پر پوله د ترهګرۍ ضد اقدامات ترسره کوي، په منظم ډول د پولې هاخوا ډزو پر ډزو پیل کوي،" او ویلې یې دي چې پاکستان تل له زغم څخه کار اخیستی او یوازې د ځان د دفاع لپاره یې اقدام کړی دی." د واکمنو د بهرنیو چارو وزارت د فبرورۍ په ۵ نېټه په یوه لیک کې یوناما ته خبر ورکړ او د افغانستان له خاورې د پاکستان پر وړاندې د بریدونو تورونه یې رد کړل او د پولې په اوږدو کې د پوځي عملیاتو په ترسره کولو کې یې د نړیوالو بشردوستانه قوانینو د بنسټیزو اصولو د درناوي غوښتنه یې وکړه.

۳۲.        د جنورۍ په ۱۹ نېټه په کابل کې د چینایانو په یوه رستورانت باندې ځانمرګی برید شو، چې په پایله کې یې لږ تر لږه ۷ تنه ووژل شول او ۱۳ تنه نور ټپیان شول. د اسلامي دولت عراق او ختیځ خراسان څانګې (داعش) د دې برید مسؤولیت ومانه.

۳۳.        سلګونه اوسېدونکو د تخار په چاه آب ولسوالۍ کې د جنورۍ ۲ او ۵ نېټې ترمنځ موده کې په سیمه کې د سرو زرو کان کیندنې له امله د چاپیریال د تخریب او اوبو د کمښت رامنځته کېدو په غبرګون کې اعتراض وکړ. د کان کیندنې یو شرکت وسلوالو ساتونکو پر اعتراض کوونکو ډزې وکړې، چې په پایله کې یې څلور ملکي اعتراض کوونکي ووژل شول او اته نور ټپیان شول. د کان کیندنې یو ساتونکی هم په دغو ډزو کې ووژل شو.

۳۴.        ناچاوده توکي لا هم د ملکیانو، تر ډېره د ماشومانو ژوند ته زیان اړوي. د راپور ورکونې مودې پر مهال، د دغه ډول توکو په چاودنه کې ټولټال ۲۶ ملکي وګړي (۶ سړي، ۱ ښځه، ۳ نجونې او ۱۶ هلکان) وژل شوي او ۶۹ نور (۱۷ سړي، ۶ ښځې، ۱۲ نجونې او ۳۴ هلکان) ټپیان شوي دي.

۳۵.        یوناما د نومبر له ۶ نېټې څخه تر جنوري ۲۵ نېټې پورې، د غیر قانوني وژنو (د واکمنو چارواکو او نامعلومو کسانو لخوا) لږ تر لږه ۱۲ پېښې، د خپل سري نیونو او توقیف ۲۹ پېښې او هېواد ته د راستانه شوو کډوالو په ګډون، د پخواني حکومت د چارواکو او پخوانیو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو د ربړونې او بد چلند ۶ پېښې ثبت کړې دي.

۳۶.        یوناما د واکمنو چارواکو لخوا د بدني مجازاتو ۳۱۶ پېښې ثبت کړې دي. په دغو پېښو کې ۳۰ ښځو، ۲۸۱ سړیو، ۱ نجلۍ او ۴ هلکانو ته د هغوی د جرمونو لکه زنا، له کوره د تېښتې، همجنس بازۍ، د الکولي مشروباتو د څښاک او قمار سزاوې ورکړل شوي دي.

۳۷. واکمنو چارواکو د ډسمبر په ۲ نېټه د خوست ولایت په ورزشي لوبغالي کې یو تن د قتل په جرم په عام محضر کې قصاص کړ. پر نوموړي د اعدام حکم د واکمنو د درې ګونو محکمو (ابتدائیه، استیناف او ستره محکمه) لخوا تائید شوی و. د یادونې وړ ده چې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته دا دولسم ځل دی چې په عام محضر کې د قصاص حکم تطبیق کېږي.

۳۸. په افغانستان کې د ماشومانو او وسلوالو شخړو د څارنې او راپور ورکونې لپاره د هېواد په کچه کاري ډلې د اکتوبر له ۱ نېټې څخه تر ډسمبر ۳۱ نېټې پورې تر ۳۰۰ پورې ښکاره سرغړونې تثبیت کړې دي، چې په کې د ۴۹ نجونو په ګډون لږ تر لږه ۲۰۰ ماشومان اغېزمن شوي دي. تر ټولو زیاتې ثبت شوې سرغړونې د وژنې او ټپي کولو پېښې، پر ښوونځیو او روغتونونو بریدونه، او د بشردوستانه مرستو د لاسرسي مخنیوی وو، چې په ګډه لږ تر لږه د ټولو ثبت شویو سرغړونو ۷۵ سلنه جوړوي.

۳۹. یوناما هغه پېښې ثبت کړې چې پکې هغه کسان چې پر ټولنیزو رسنیو د داسې مطالبو د خپرولو په تور تورن شوي وو، چې د واکمنو چارواکو له نظره نامناسب بلل کېدل، له ګواښونو، خپلسرو نیونو او توقیف سره مخ شوي دي. د نومبر په میاشت کې په ځینو ولایتونو کې لیکوالانو، خپرندویانو او د کتاب پلورنځیو مالکانو ته د واکمنو د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا لارښوونه وشوه چې له خپرولو مخکې باید ترتیب شوی کتاب د دې وزارت د کتاب د ارزونې کمېسیون له لوري وکتل شي. هغه مطالب چې د واکمنو چارواکو له اصولو سره سمون نه لري، سمون پکې راوستل کېږي. همدارنګه کتاب پلورنځیو ته سپارښتنه شوې چې منع شوي کتابونه ونه پلوري. واکمنو چارواکو په لږ تر لږه ۲۵ ولایتونو کې د سختوالي ببلابېلو کچو په درلودلو سره، د ژوندیو موجوداتو د انځورونو پر خپرولو بندیز پلې کړی چې د رسنیو د سکتور پر دوامدار فعالیت یې اغېز کړی دی. هغه ولایتونه چې په دې وروستیو کې اغېزمن شوي، هرات، پروان او ارزګان ولایتونه دي.

۴۰. د واکمنو امنیتي ځواکونو او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر محتسبینو د نومبر له ۴ نېټې راهیسې په هرات ښار کې هغه ښځې له عامه او خصوصي خدمتونو ترلاسه کولو منع کړې چې بُرقې یې په سر کړې نه وې. د واکمنو د دې وزارت ویاند د نومبر په ۹ نېټه دا ادعاوې رد کړې او ویې ویل چې ښځو ته یوازې د بُرقې په سرولو امر کړی و. داسې ښکاري چې د نومبر له نیمایي راهیسې د بُرقې په سرولو شرط یو څه نرم شوی دی. خو بیا هم، یوناما ځینې داسې پېښې ثبت کړې چې هغه ښځې چې څادر (چادري) یې پر سرونو نه وې، عامه ترانسپورت او روغتیایي خدمتونو ته له لاسرسي څخه منع شوې دي.

۴۱. په دولتي یا عامه سکتور نورې ښځې هم له دندو څخه وشړل شوې. ډېری ښځینه دولتي کارکوونکو ته د جنورۍ په میاشت کې چې مخکې له دې د کار ځای ته له تګ څخه منع شوې وې او یوازې ورته د ۵۰۰۰ افغانیو (نږدې ۷۷ ډالره) معیاري معاش ورکول کېده، خبر ورکړل شو چې نور به معاش نه ورکول کېږي او یا به له خپلو دندو ګوښه کېږي. د واکمنو د ملي ازموینو اداري د نومبر په ۱۴نېټه د ۲۰۲۵ کال د طبي فارغو زده‌کوونکو د فراغت (اګزیټ) ازموینه واخیسته، چې پکې ښځو ته په یاده ازموینه کې د ګډون اجازه ورنکړل شوه.

۴۲. د واکمنو د زندانونو چارو د سمون ادارې د جنورۍ تر ۳۱ نېټې پورې راپور ورکړی چې د یادې ادارې په زندانونو کې د زندانیانو شمېر له ۱۶۰۰۰ نیولې تر ۱۷۰۰۰ پورې رسېږي، چې ځینې یې په خپلو جرمونو محکوم شوي او پاتې یې لا هم په نسبي توقیف کې دي. یادې ادارې په نسبي توقیف کې د زندانیانو شمېر په ډاګه نه کړ. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو اړوند ادارو او نورو سازمانونو بندیانو ته محدودې مرستې چمتو کړې چې پکې د ژمي اړتیاوې هم شاملې وې، د واکمنو اړوندې ادارې لا هم د بندیانو لپاره د تغذيې، روغتیا او مسلکي او تعلیمي روزنې په برخو کې د مرستو ترلاسه کولو هڅه کوي، چې پکې د واکمنو نورې ادارې هم شاملې دي.

۴۳. د جنسیتي مساوات او د ښځو ځواکمنتیا لپاره د ملګرو ملتونو ادارې یا د ملګرو ملتونو د ښځو چارو ادارې (UN-Women)، د کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما په ګډه د ډسمبر له ۱ نېټې څخه تر ۲۵ نېټې پورې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې له

۸۰۹ ښځو او په ۱۴ ولایتونو کې له ۱۶۷ سړیو سره د ټول هېواد په کچه مرکې او سلا مشورې ترسره کړې. په دغو مرکو کې په ډاګه شوې چې، عدلي او قضايي ارګانونو ته د ښځو لاسرسی خورا کم شوی دی. په داسې حال کې چې واکمنو چارواکو د ښځو پر حقونو د پراخو محدودیتونو تر څنګ، داسې فرمانونه صادر کړي چې د ښځو د میراث حق او په واده کې د انتخاب حق تاییدوي، ډېری مرکه شویو ښځو، په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې، له دغو اقداماتو ناخبرې وې او د هغو د عملي کېدو هېڅ نښه یې نه وه لیدلې. رسمي عدلي میکانیزمونه په پراخه کچه د نه لاسرسي وړ بلل کېږي: د هرو څلورو نارینه وو په پرتله یوازې یوې ښځې ویلي چې محاکمو ته لاسرسی لري. ښځې د بدیلو عدلي لارو په پرتله د واکمنو د عدلي او قضايي ادارو څخه د مرستې غوښتلو ته ډېر کم زړه ښه کوي. ډېری یې د خپلو قضیو د تعقیب لپاره پر نارینه خپلوانو یا، په نسبتاً کمه کچه، د ښځو پر غیر رسمي شبکو باندې تکیه کوي.

**څلورم: اقتصادي پراختیا، د تمویل کوونکو همغږي او د مرستو اغېزمنتوب**

۴۴. افغانستان له یو بل سره تړلو بشردوستانه، اقتصادي او نفوسو پورې اړوند فشارونو سره مخ دی، چې د ګاونډیو هېوادونو څخه د کډوالو پراخې راستنېدنې، د نړیوالو مالي مرستو کمښت، طبیعي پېښو او د سوداګرۍ پر وړاندې خنډونو او ګډوډیو له امله رامنځته شوي دي. د بشردوستانه مرستو اړتیاوې لا هم په جدي توګه زیاتې دي، او په بېلابېلو سکتورونو کې زیانمنې لا زیاتې شوې دي.

۴۵. د افغانستان ختیځې او شمالي برخې کې په اګسټ او نومبر میاشتو سختو زلزلو ویجاړې کړې، چې له امله یې له ۲۱۰۰ څخه زیات کسان ووژل شول، ۳۶۰۰ تنه ټپیان شول او کورونو او حیاتي زیربناوو ته پراخ زیانونه واوښتل. د ګډې چټکې بیارغونې د اړتیاوو ارزونه، چې پکې ملګري ملتونه، آسیایي پراختیايي بانک، اروپايي ټولنه او نړیوال بانک ګډون لري، په کورونو، زیربناوو، معیشت، روغتیا، زده‌کړو او اوبو سکتورونو کې د پراخې بیا رغونې اړتیاوې په ګوته کړې، او په بشردوستانه مرستو کې یې د ژر تر ژره بیارغونې او مقاومت لوړولو هڅو لپاره بیړنۍ اړتیا څرګنده کړه. د جنورۍ په لومړۍ نېټه د سېلابونو پېښې دغه اړتیاوې لا زیاتې کړې. دغه پرله‌پسې او یو له بل سره تړلي ټکانونه د اقلیم پورې تړلو ناورینونو له خطر سره د افغانستان شدیده مخامخېدنه څرګنده کړه او د بشپړ، خطر په اړه خبر ورکوونکو او پر مقاومت متمرکزو بشردوستانه، بیارغونې او پراختیايي تګلارو لپاره حتمي اړتیا یې لا زیاته کړه.

۴۶. د ۲۰۲۵ کال په اوږدو کې شاوخوا ۲،۷۸ میلیونه افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي، چې له دې ډلې ۱،۹ میلیونه له ایران، ۸۹۸۷۰۳ ا تنه له پاکستان او ۱۷۰۰۰ تنه له ترکیې څخه په اجباري توګه او یا هم د نامناسبو شرایطو له امله هېواد ته راغلي دي. زیات شمېر راستنېدونکي، په تېره بیا هغه کورنۍ چې سرپرستان یې ښځې او ماشومان دي، اسناد نه لري او په دې توګه خدمتونو او معیشت ته د دوی لاسرسی محدودوي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ لخوا په ۲۰۲۵ کال کې له راستنېدو وروسته د کډوالو ترسره شوې څارنې ښودلې چې راستنیدونکي په هغو نازکو سیمو کې استوګن شوي چې هلته بېوزلي زیاته شوی او خدمتونو ته لاسرسی محدود دی، او ډېری یې د سرپناه، ځمکې یا د عایداتي فرصتونو د نشتوالي له امله خپلو اصلي مېنو ته بیرته نشي تلای. ملګرو ملتونو د راپور ورکونې مودې پر مهال، د راستنیدونکو په اړه د خوندیتابه جدي اندېښنې ثبت کړي، چې پکې د ځینو افرادو، په ځانګړې توګه د پخوانیو دولتي چارواکو او د پخواني افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړو پر وړاندې د انتقامي کړنو راپورونه شامل وو. د لوړې کچې همغږۍ په پنځمه غونډه کې، چې د نومبر په ۱۸ نېټه د افغانستان لپاره د سرمنشي د ځانګړي استازي مرستیال، مېشت او د بشري مرستو همغږي کوونکي او د واکمنو د بهرنیو چارو وزیر په مشرۍ جوړه شوه، پکې د پایداره حل لارو لکه ښارګوټو جوړولو پروګرامونو باندې بحثونه وشول او په پایله کې پر دې

هوکړه وشوه چې له خپلو ټولنو سره د راستنېدونکو کډوالو د بېرته یوځای کېدو، معیشت او بنسټیزو خدمتونو په تړاو به د واکمنو اړوندو وزارتونو او ملګرو ملتونو ادارو ترمنځ په تخنیکي کچه له دې وروسته همکاري نوره هم پیاوړې کوي.

۴۷. په ډسمبر میاشت کې د نړیوال بانک لخوا د اقتصادي څارونکي راپور پر بنسټ، سره له دې چې لږ څه اقتصادي وده رامنځته شوې، په ۲۰۲۵ مالي کال کې په سړي سر ناخالص داخلي تولید کې د نږدې ۴ سلنې کموالي وړاندوینه شوې، ځکه چې د زېرون لوړې کچې او وروستیو راستنېدونکو شمېر ته په کتو سره، اقتصادي وده کمه پاتې شوې ده. کمه شخصي پانګونه او مالي سرچینو ته محدود لاسرسی د پانګې جوړونه ورو ساتلې، چې له امله یې ګټورتوب محدود پاتې شوی، سره له دې چې د راستنیدونکو کډوالو په راتګ سره په شخصي کورني لګښت کې کموالی راغلی دی.

۴۸. د نړیوال بانک راپور د افغانستان او پاکستان د پولې له بندېدو وروسته په بهرنۍ سوداګرۍ کې کموالی ثبت کړی دی. د سوداګرۍ کسر د میاشت په میاشت شمېرو پر بنسټ، په ډسمبر میاشت کې شاوخوا ۱،۰۲ میلیاردو ډالرو ته رسېږي، چې ۵ سلنه زیاتوالی ښيي او د ۲۰۲۵ مالي کال د لومړیو نهو میاشتو ټولټال کسر ۸،۵ میلیارده ډالره کېږي، چې د افغانستان د موجوده کلنیو ناخالصو کورنیو تولیداتو له ۳۹ سلنې سره برابر دی. سره له دې چې بدیلو سوداګریزو لارو ځینې د توکو کمښتونه په نسبي توګه کم کړي، د ترانسپورت او لوژستیک لوړو لګښتونو د صادراتو رقابتي حالت کمزوری کړی. همدارنګه، د وارداتو د لګښتونو زیاتوالي د انفلاسیون او د کورنیو د خرید ځواک په کموالي کې ونډه لرلې ده.

۴۹. له پاکستان سره د پولې تړل کېدل لا هم پر سوداګرۍ، آزاد تګ راتګ او بشردوستانه چارو باندې اغېزه لري او د خوراکي او طبي موادو په ګډون، د اټکل له مخې د ۲۵ میلیونو ډالرو په ارزښت د ملګرو ملتونو ۵۵۰۰ ټنه د بشردوستانه موادو محمولې یې ځنډولې دي. پاکستان د ډسمبر په ۴ نېټه یوازې د ملګرو ملتونو د بشردوستانه موادو د محمولو پر وړاندې د تورخم او چمن پولې پرانیستې، خو د افغان لوري لخوا د پولې دواړو غاړو ته د بشپړ تګ راتګ بیا پیل همداسې بند پاتې دی.

۵۰. د نړیوال بانک د شمېرو پر بنسټ، انفلاسیون نسبتاً په منځنۍ کچه کې پاتې شوی، خو په ډسمبر کې یې، په تېره بیا په ښاري او د راستنېدونک کډوالو د مېشتېدنې په سیمو کې لوړېدونکی بهیر ښودلی دی. د ټولیز انفلاسیون نرخ د نومبر په میاشت کې د تیر کال په پرتله ۴،۷سلنې ته لوړه شوه، چې د اکتوبر میاشتې ۳،۰ سلنې په پرتله زیات دی، چې ستر لامل یې د خوړو د بیو لوړوالی او د کور جوړونې، روغتیا او ترانسپورت د لګښتونو زیاتوالی بلل شوی دی. د کور جوړونې بیې د کال په کار شمېرو پر بنسټ ۱۳ سلنه لوړې شوې، چې ستر لامل یې هېواد ته په زیات شمېر کې د راستنېدونکو وګړو له امله د کرایي کورونو په تقاضا کې زیاتوالی ښودل شوی دی. د اصلي انفلاسیون کچه ۵،۸ سلنې ته لوړه شوې، چې د اسعارو د نسبي ثبات سربېره په پراخه کچه د بیو لوړوالی یې ستر لامل دی.

۵۱. د ملګرو ملتونو تعلیمي، ساینسي او کلتوري ادارې یا یونیسکو په افغانستان کې له یوه خصوصي بانک سره په ګډه همکارۍ، ۶۰ ځوانو افغانو مېرمنو ته د کار زده کړې پروګرام په لاره واچوه. یادې ادارې همدا راز له اروپایي ټولنې سره په ګډه د ښځو او نجونو په ګډون، د ۷۵۰۰ افغان ځوانانو او لویانو لپاره یو پروګرام پیل کړ. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په فبرورۍ میاشت کې د افغانستان په خصوصي سکتور کې د پراخې ارزونې راپور خپور کړ. په دغه راپور کې د دې سکتور رول په اقتصادي احیاء کې منل شوی، جوړښتي خنډونه ارزول شوي، او د ودې سکتوري فرصتونه یې یاد کړي، او د ښځو اقتصادي ګډون ته د مهم او لازم شرط په توګه کتلو باندې ټینګار شوی دی.

۵۲. یوناما د فبرورۍ په ۹ نېټه د دوحې بهیر په چوکاټ کې د خصوصي سکتور کاري ډلې دربیمه غونډه جوړه کړه، چې په حضوري او غیر حضوري دواړو بڼو کې د واکمنو چارواکو، غړو هېوادونو، ملګرو ملتونو ادارو او د خصوصي سکتور د نارینه او ښځینه استازو په ګډون په کابل کې ترسره شوه. دغه غونډه په دوه ناستو کې ترسره شوه چې موخه یې د تر دې دمه د لاسته

راوړنو ارزونه، موجوده ننګونو او د راتلونکي پړاو لپاره د تمرکز ساحو ټاکل و. لومړۍ ناسته په خصوصي سکتور کې د فعالیت وده او ګډون، او دویمه ناسته په مالي معاملو کې روڼتیا او شفافیت باندې متمرکزه وه.

۵۳. د ملګرو ملتونو د نغدو پیسو د محمولو د لېږد مرکز د بشردوستانه چارو د ملاتړ په موخه لا هم فعالیت کوي. د یاد مرکز لخوا په ۲۰۲۵ کال کې د ملګرو ملتونو ادارو او تائید شوو نادولتي ادارو ته ټولټال ۶۴۰ میلیونه ډالر راوړي دي، چې په ۲۰۲۴ کال کې د ۱،۲۸ میلیارده وارد شوو ډالرو په پرتله کموالی په ګوته کوي چې لامل یې په مرستو کې کموالی او د حساب بیا ډکولو لپاره د بانک له لارې د پیسو د لېږدونو زیاتوالی بلل کېږي. یوناما په جنوري میاشت کې د پیسو وینځلو او ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې مبارزې لپاره د اروپايي ډلې د سکرتریت او د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز ترمنځ لومړنۍ تخنیکي غونډه جوړه کړه، چې موخه یې د تخنیکي همکارۍ د ممکنه ساحو په ګوته کول او څېړل و.

۵۴. د افغانستان لپاره د ځانګړي اماني صندوق د رهبرۍ کمېټې په دسمبر میاشت کې د ۱۷،۰۹ میلیونو ډالرو په ځانګړي کولو سره، دوه ګډ پروګرامونه منظور کړل. لومړنی پروګرام د نشه اي توکو له اعتیاد څخه د رغول شوو کسانو لپاره درملنه او اقتصادي پیاوړتیا برابروي، او دویم پروګرام د افغانستان له ټولنو سره له ایران نه د راستنېدونکو کډوالو د بېرته یوځای کېدو په برخه کې مرسته او ملاتړ چمتو کوي او د بې ځایه شوو وګړو لپاره پایداره حل لارې زیاتوي.

۵۵. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام، د ملګرو ملتونو د پانګې پراختیا صندوق او د افغانستان د پورونو د تضمین بنسټ په ملاتړ، د پور د تضمین آسانتیا د وړو، کوچنیو او د منځنۍ کچې متشبثینو لپاره مالي تمویل ته لاسرسی رامنځته کړی دی. تر اکتوبر میاشتې پورې ۷۴۴۴ دغه ډول متشبثینو او کاروباریانو ته ۲۰ میلیونه ډالر پورونه ورکول شوي، چې دې ډلې یې ۲۲۲۵ ښځینه متشبثینې دي او د ښځو لپاره د ۴۷۰۱ کاري فرصتونو په ګډون، ۱۸۷۹۱ کسانو ته کاري فرصتونه برابر کړي دي. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام همدا راز د راستنېدونکو کډوالو ۱۰۸۵ وړو، کوچنیو، او منځنیو تشبثاتو سره مرسته کړې، چې لږ تر لږه ۶۰ سلنه یې ښځې پرمخ وړي او د لږ تر لږه ۴۰ سلنه د مېرمنو لپاره د دندو رامنځته کولو په ګډون یې د ۲۳۰۳ دندو په رامنځته کولو کې ونډه لرلې ده. د یادونې وړ ده چې دغو کړنو د ښځو او راستنېدونکو کډوالو لپاره د معیشت فرصتونو په دوامداره ساتلو کې مرسته کړې ده.

۵۶. د ۲۰۲۶ کال لپاره د ملګرو ملتونو د خطر مشترکې ارزونې چې په ډسمبر میاشت کې ترسره شوه، دا تائید کړه چې د افغانستان د خطر ټولیز چاپیریال لا هم د خرابېدو خوا ته روان دی. د مرستو د انحراف او ناوړه استفادې خطر لا هم لوړ پاتې دی. په دغه ارزونه کې د داخلي کنټرولونو د پیاوړتیا او د شریکانو د څارنې د قوي کولو لپاره عام کموونکې تدابیر روښانه شوي دي.

## پنځم: بشري مرستې

۵۷. د څو لسېزو جګړو، وروسته پاتېوالي او ماتېدونکی اقتصاد په میلیونونو افغان وګړي د یو سخت بشري حالت سره مخ کړي دي. دغه ننګونې د شدیدې خوراکي ناامنۍ، اقلیمي وچکالي، پر ښځو او نجونو باندې وضعه شویو محدودیتونو، دوامداره طبیعي پېښې او د سترې بېرته راستنېدنې کچې سره یو ځای شوی دی. اټکل کېږي چې په ۲۰۲۶ کال کې ۲۱،۹ میلیونه وګړي، چې د ټول نفوس ۴۵ سلنه جوړوي، بشري مرستو ته اړتیا ولري. په لومړیتوب اړتیاوو کې، خوراکي مرسته، د حاد خوارځواکۍ درملنه، بنسټیز روغتیايي خدمتونه، صحي څښاک اوبو ته لاسرسي، سرپناه او د خدندیتوب د خدمتونو سره یوځای، په ځانګړې ډول ښځو او نجونو ته، شامل دي.

۵۸. د بشري مرستو شریکان په دوامداره توګه، د اړتیا کچې ته نږدې، مرستې چمتو کړي دي. د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې څخه بیا د نومبر تر میاشتې پورې، د بشري مرستو شریکان ۱۶،۴ میلیونه وګړو ته لاسرسي موندلې، چې لږ تر لږه یو ډول بشري مرسته ترلاسه کړي، په ګډون د هغه ۳،۷ میلیون وګړي چې دري او یا تر دري زیات ډول بشري مرستې تر لاسه کړي دي. شاوخوا ۱۰،۱ میلیون وګړي خوراکې او معیشت مرستې ترلاسه کړي، ۷،۳ میلیونه وګړې د روغتیا پالنې مرستې تر لاسه کړي، ۳.۴ میلیون وګړي اوبه او صحي حفظ الصحه ترلاسه کړي، ۵،۹ میلیون وګړي د خوندیتوب خدمتونه ترلاسه کړي، ۵.۳ میلیون وګړي د تغذیې مرستې ترلاسه کړي، ۷۰۷۰۰۰ تنه وګړي د زده کړي ملاتړ ترلاسه کړي او کابو ۶۱۷۰۰۰ تنه وګړي د سرپناه بېړنې مرستې او غیر خوراکي توکي ترلاسه کړي دي. د جنوري تر میاشتې پورې د بشري مرستې شریکان تر ۳۱۹۰۰۰ تنو زیات خلکو سره، په هغه ولسوالیو کې چې د اګست په میاشت کې د زلزلې له امله زیانمن شوي وو، مرسته کړي دي.

۵۹. په ۲۰۲۵ کال کې د بېرته راستندونکو ستر خوځښت د پذیرش ظرفیت، سرپناه، بنسټیز خدمتونه او معیشت تر سخت فشار لاندی ونیول. په پوله کې د همکارانو ډله، تر یو میلیون زیات وګړو ته، د خوندیتوب خدمتونو، نغدې مرستې، او د اجناسو ملاتړ په ګډون، مرستې چمتو کړي دي. مرسته کوونکې همکاران په ډاډمن ډول سره هڅه کړي چې ټول بېرته راستنېدونکو ته جامع او بېړنې بشرې مرسته په پولو کې چمتو وي.

۶۰. خوراکي ناامنې په چټکۍ سره ناوړه شوی دی. د یو موټې خوراکي امنېت طبقه بندې تحلیل چې د ډسمبر په میاشت کې ترسره شوي و، کابو ۱۷،۴ میلیونه وګړي حاد خوراکي امنیت سره مخ دې چې د هغه له جمعې څخه ۴،۷ میلیونه وګړي په ۴ طبقه (بېړنې حالت) کې قرار لري. مالي فشارونه نړیوال خوراکي پروګرام یې اړکړی دی چې د ۲۰۲۴-۲۵ کال ژمنې پروګرام چې ۴۰ سلنه حاد خوراکي اړتیا یې تر پوښښ لاندی نیولې و، د ۲۰۲۵-۲۶ کلونو ژمنې پروګرام کې تر ۲۳ سلنې پوری راکم کړي چې کورنې اړیاسې زیانمن ستراتیژیګانې، لکه د ماشومانو کار او له وخت څخه مخکې واده ته مخه کړی. نړیوال خوراکي پروګرام، د ډسمبر په میاشت کې، نږدې ۲ میلیونه وګړو ته د بېړنې خوراکي او نغدو مرستو ملاتړ چمتو کړی دی. د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان له اکتوبر تر ډسمبر میاشتو پورې ۱،۱میلیونه وګړو ته بېړنې او کرنیز انعطاف محوره مرستې چمتو کړې چې د بېړنې خوراکي امنیت او اوږد مهاله معیشت ملاتړ کوي.

۶۱. افغانستان د ماشوم د ځانګړی شدید خوارځواکي سره مخ دی. اټکل شوی دی چې ۳،۷ میلیونه، تر ۵ کاله ټیټ ماشومان او ۱،۲ میلیونه مېندوارې او شیدې ورکوونکې مېندې په حاد خوارځواکي سره مبتلاء دي. د سپتمبر او اکتوبر د میاشتو په موده کې ۱۸۰۰۰۰ تر ۵ کلن ټیټ عمر ماشومان چې په شدید خوارځواکي مبتلا وو روغتیایې مرستې ترلاسه کړي دي. د دې علاوه، ۴۴۱۶۵۵ تر ۵ کاله ټیټ ماشومان او ۲۷۱۱۶۰ مېندوارې او شېدې ورکونکې مېندې چې په منځنې خوارځواکي مبتلاء و د هدفمند تقویتي تغذیه ترلاسه کړي دي. د تمویل ټیټه کچه په ۲۰۲۵ کال کې په ۲۵ ولایتونو کې د ۳۰۵ تغذیې مرکزونو د بندولو لامل شو، چې له امله یې ۸۸۰۰۰ څخه زیات زیامنېدونکې ماشومان او مېندو ته دغه خدمات بند شول.

۶۲. د عامه روغتیا ګواښونه هم شدید دي. د سپتمبر میاشتې څخه بیا تر ډسمبر پورې افغانستان د ساري ناروغیو ۳۱۰ خبرداري ثبت کړی دی. د سترو مالي مرستو بندېدلو له امله ۴۵۵ روغتیایې مرکزونه بند او یا تعلیق شوی دي چې ۳،۸ میلیونه وګړی اغېزمن کړي دي. نړیوال روغتیایې سازمان او د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهې صندوق په دوامداره توګه، د تراما مراقبت، رواني روغتیا او سایکالوژي ملاتړ او د مور او ماشو روغتیا په ګډون، د بنسټیز روغتیایې خدمتونو ملاتړ چمتو کړي دي. په ټول هېواد کې د شرې د ناروغۍ د واکسین کمپاین د نومبر په میاشت کې پایې ته ورسید چې ۸،۳ میلیونه ماشومانو ته واکسین تطبیق شوی دی.

۶۳. افغانستان په نړۍ کې یو له هغو هېوادونو څخه دی چې په دوامداره توګه د ناچاودو مهماتو له امله د مرګ ژوبلې د لوړې کچې راپور ورکول کېږي. د ماین پاکۍ فعالیتونه د ۲۰۲۴ کال په پرتله د مالي مرستو د کمښت له امله، ۳۷ سلنه کم شوي دي. د اکتوبر د میاشتې تر ډسمبره پورې د ملګرو ملتونو تر مشري لاندې د ماین پاکولو تخنیکې ځانګه، د بشري مرستو د لومړیتوب دندو سره سم، د ماین پاکې د سکتور همغږي کار ته دوام ورکړې، د ۲۴۶ ځایونو څخه لېدنه کړی، ۶۲۸ ټلیفونې غوښتنو ته ځواب ویلې، او د غیر دولتې موسساتو په ګډون، نه موسسو لپاره د ماین پاکې مداخله خدمتونه وړاندي کړي دي.

۶۴.	ښځې او نجونې په دوامدار توګه د جدي محدودیتونو سره مخ دي چې بنسټیز خدمتونو ته د دوی لاسرسي باندې ناوړه اغېزه کوی. هغه بندیز چې پر ثانوي زدکړو باندې اوس هم دوام لري، ۲،۲ میلیونه ځوان نجونې اغېزمن کړي دي، چې پر خوندېتوب، معیشت او ټولنیز انسجام باندې دوامدار منفي اثر کوي.

د ښځو د طبي زدکړو موسسو تعلیق کوم چې د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر د میاشتې راپدېخوا دوام لری، د ښځینه روغتیایي مسلکي کسانو شتون یې کم کړی دی او له امله یې د طبي خدمتونو وړاندي کول کمزوری شوی دی. افغانستان په دوامداره توګه په نړۍ کې د ښځو د مړینې د لوړې کچې ثبت لري، چې په هر ۱۰۰۰۰۰ ژوندې زیږون کې ۵۲۱ تنه ښځې خپل ژوند له لاسه ورکوي. په غبرګون کې د ملګرو ملتونو د نفوس مالي صندوق، د ډسمبر په میاشت کې ۲۵۱۵ ښځینه روغتیاپال کارکوونکې ټول هېواد ته استولې دي.

۶۵.	د نومبر په میاشت کې د واکمنو چارواکو د بندیز له امله، د اسلام قلعه پر پوله باندې د هغو ښځینه پرسونل مانع شول کوم چې بېرته راستنېدونکو ته مرسته چمتو کول، چې د دغه خدمت د موقت تعلیق لامل شو. که څه هم وروسته د افغان ښځینه کارکوونکو ته محدود لاسرسي بېرته احیاء شو او طبي خدمات بیا له سره پیل شو خو عملیات محدود پاتې شو. د جنوری د میاشتې د ۶ نېټې څخه، وروسته له مذاکرې، ملګري ملتونه او د هغه همکاران عملیات له سره پیل کړل. د اړتیا وړ افغان ښځینه کارکوونکو چې خدمات چمتو کول په دوه برخه وویشل شول چې یوه برخه یې د پذیرش په مرکز کې او دویمه برخه د ترانزیت په مرکز کې وګمارل شول، او دویمه برخه د بېرته راستنېدونکو افغان ښځینه او نجونو ته غیر طبي ملاتړ چمتو کوي. د ملګرو ملتونو موسسو او د بشري مرستو همکاران په دوامداره توګه وضعیت څارې او تحلیلوي.

۶۶.	د بشري مرستو همکارانو راپور ورکړي چې د جنوري او ډسمبر د میاشتو ترمنځ موده کې په ټول هېواد کې ۱۰۴۲ د لاسرسي پېښې واقع شوي چې له امله یې ۵۷۷ د بشری مرستو فعالیتونه په موقت ډول سره تعلیق شوي دي. په دغه پېښو کې، د ۱۳۲ تنو کارکوونکو د توقیف په ګډون، د ملګرو ملتونو ۱۲ کارکوونکې هم شامل وو. د ۲۰۲۴ کال په پرتله، د پېښو کچه ۳۷ سلنه کمښت ښیي چې په عمومي ډول د مالي مرستو د کمښت له امله د بشری مرستو په فعالیت کې د کموالي په سبب دی.

**شپږم: د نشه اي توکو پر وړاندې مبارزه**

۶۷.	د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو پر وړاندې مبارزې دفتر د راپور پر بنسټ، پداسې حال کې چې په ۲۰۲۳ کال د نشه اي توکو کرکلې باندی بندیز د پلې کیدو وروسته، د کوکنارو کښت په ټول هېواد کې په زیاته پیمانه راکمه شوي ده، خو د هغه تمرکز د سویل لویدیځ سیمې څخه شمال ختیځو سیمو ته خوځېدلې دی.[1] تصنعي نشه یې توکې، او د طبي درملو ناوړه کارونه، په زیاته پیمانه د نشه اي توکو د کارولو په معنا ده.[2] د کوکنارو پخوانې کلبوال کروندګر راپور ورکړي چې د دوي ټولنیز اقتصادي وضعیت په زیاپه پیمانه راټېټه شوي ده که څه هم دوي د غلو دانو کرل ته مخه کړې او ښه خوراک هم شتون لري، خو بیا هم دا نشې کولای د را ټېټ شوي عاید جبران وکړي. کرنیز ملاتړ محدود پاتې دی، او د پخوانې کوکنارو کښت ۱۲

---

[1] د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو پر وړاندې مبارزې دفتر، ”په افغانستان کې پر نشه اي توکو د بندیز ټولنیز-اقتصادي اغېزې او پر شمالي ولایتونو باندې تمرکز“، ډسمبر ۲۰۲۵. پدغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی:
www.unodc.org/documents/crop-monitoring/ Afghanistan/Socio_Economic_brief_2025.pdf.

[2] د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو پر وړاندې مبارزې دفتر،“ د افغانستان د نشه اي توکو کارولو ارزونه”، فبروري ۲۰۲۶. پدغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی:
www.unodc.org/ documents/crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_drug_use_assessment_2026.pdf.

سلنه جوړوي، پداسې حال کې چې روغتیايي خدمتونو، تعلیم، زیربناوي او ښځینه طبې مراقبتونو لاسرسې کې تشې په دوامدار توګه پاته دې.

۶۸.	د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرم دفتر د ۲۰۲۵ کال د نومبر د میاشتې څخه بیا تر ۲۰۲۶ کال د جنوري تر میاشتې پورې، ۴۶۷۹ کورنیو سره، د ۱۰۳۰ کورنیو په ګډون چې سرپرستې یې ښځې کوي، د ابولګولو، غلودانو، څاروي او مارکېټ ته نښلول لا لارې ملاتړ چمتو کړی دی او ۲۴ مرکزونو سره مرسته کړي چې د نشه اي توکو استعمال کوونکو لپاره دی. په ټولېز ډول په ۱۳ ولایتونو کې، ۶۴۷۶ ګټه اخېستونکې، د ۲۲۵ ښځینه په ګډون، خدمتونه ترلاسه کړي دي.

۶۹.	د نشه اي توکو د کاري ډلې په چوکاټ کې چې د دوحې د پروسې پر بنسټ رامنځته شوی دی او ملګري ملتونه، غړي هېوادونه، واکمن چارواکې او نړیواله ټولنه یکې غړیتوب لري، یو لړ تدبېرونه مشخص کړي او پراختیا ورکړي چې کولای شې په افغانستان کې د نشه اي توکو په ډګر کې ننګونو ته رسیدګې وکړي. په فعالیتونو کې د ایران د اسلامې جمهوریت څخه لېدنه چې د نومبر په میاشت کې ترسره شوه او په هغه کې د واکمنو چارواکو د کورنیو چارو وزارت استازې ګډون درلودل، تر څو د شواهدو پر بنسټ د نشه اي توکو د کارولو د مخنیوي چارې وویني، او همدارنګه د دریو ورکشاپونو دایرول چې د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو د دفتر په ملاتړ د اکتوبر او نومبر په میاشتو کې ترسره شوي و او موخه یې دا وو چې د واکمنو چارواکو، غړی هېوادونو، افغان تخنیکې متخصصینو، د افغان ښځو او نارنیو په ګډون، چې د معیشت بدیل په اړوند د عمل ګډ پلان په جوړولو کې همغږي تسهیل کړي، کوم چې د ۲۰۲۵ کال د فبروري په میاشت کې د کارې ډلې په غونډه کې وړاندي شوي وو. همدارنګه د کارې ډلې غړو د نشه اي توکو د کارولو مخنیوي ورکشاپ او د قانون د پلې کولو په ناسته کې چې د ډسمبر په میاشت کې جوړ شوي و، د افغانستان په اړه د همکاري پر مسله باندې خبرې اترې کړي دي. یاد شوي فعالیتونه پدې موخه ترسره شوي دي تر څو د نشه اي توکو په وړاندي مبارزه، د پیسو د سپینولو مخنیوي، د تروریزم د تمویل مخنیوي، د ګرمو وسلو قاچاق او د تروریزم په وړاندی مبارزه، د نړیوال مسؤلیتونو سره په مطابقت کې، ډیالوګ او همغږي پیاوړی شي.

۷۰.	یوناما د فبروری د میاشتې په ۳ نېټه په کابل کې د نشه اي توکو په وړاندې مبارزه کارې ډلې څلورمه ناسته، په دواړه فزیکې او آنلاین ډول سره، دایره کړي چې په هغه کې د واکمنو چارواکو، غړي هېوادونو، د ملګرو ملتونو موسسو او د موضوع په اړوند نارینه او ښځینه متخصصین سره راټول کړي وو. ګډون کوونکو په افغانستان کې د نشه اي توکو سره د مبارزی په اړوند د تعامل کلېدې پایلو باندې بیا کتنه وکړل، کلېدې ننګونې رابرسېره کړل، او په ډله ییز ډول سره د یاد شویو ننګونو د له منځه وړلو لپاره پر محسوس کړنو او میکانیزمونو باندي بحث او خبرې وکړل.

**اووم: د ماموریت ملاتړ**

۷۱.	د ډسمبر د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، په یوناما کې د خالې بستونو کچه د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۲۰ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړیوال رضاکارانو لپاره ۲۵ سلنه، د ملګرو ملتونو د داخلې رضا کارانو لپاره ۱۱ سلنه، د داخلې مسلکې افسرانو لپاره ۲۱ سلنه، او د داخلې عمومې خدماتو کارکوونکو لپاره ۲۴ سلنه وو چې تایید شوی کچې په پرتله په ترتیب سره، ۸،۳ سلنه، ۹،۳ سلنه، ۵ سلنه، ۱۵،۵ سلنه او ۱۱،۲ سلنه ده. د ښځینه کارکوونکو انډول، په نړیوالو کارکوونکو کې ۳۴ سلنه، ۳۹ سلنه د ملګرو ملتونو په نړیوالو رضاکارانو کې، ۱۱ سلنه د ملګرو ملتونو په داخلې رضاکارانو کې، ۹ سلنه په داخلې مسلکې افسرانو کې او ۱۱ سلنه په داخلې عمومې خدمتونو کارکوونکو په منځ کې دی.

**اتم: مشاهدې**

۷۲.	داسې ښکاري چې اوسمهال په افغانستان یو نسبي ثبات شتون لري چې پر ناوړه بشرې، سیاسي او ټولنیز اقتصادي ګواښونو باندې پرده اچوي پداسې حال کې د بشري حقونو وضعیت په دوامداره توګه ناوړې کېږي. د نړیوالې ټولنې د مرستو کمېدل، په زیاته کچه د بېرته راستنېدونکو بهیر، طبیعي ناورینونه او د سمېه ییز سوداګرۍ جریان مختل کیدل مجموعي پایلې، پر افغان وګړو باندې اضافي فشار واردوي.

۷۳.	په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې دوامداره سیستماتیک تبعیض نه یوازې د وګړو نېمه برخه یې د هغو د بشري حقونو او وقار څخه محروم کړي، بلکې همدارنګه د نړیوال بشري قانون تر لاندې د دغه هېواد د مسؤولیتونو څخه تېرۍ هم دی. دغه حقیقت په پر له پسې توګه د نړیوال په سیستم کې د افغانستان د بیا یو ځای کېدل څخه مخنېوي کوي. که څه هم واکمن چارواکې په دوامداره توګه واضح کړې چې د شپږم ټولګې څخه پورته د نجونو پر تعلیم باندې بندېز مؤقتي دی، په نږدې وخت کې دغه بندېز خپل پنځم کال کې داخلېږي. زه یو ځل بیا واکمن چارواکې هڅوم چې د ښځو او نجونو په وړاندې بندېزونه لرې کړي تر څو دوي وکولای شي په بشپړ ډول سره د خپل د تعلیم حق څخه برخمن شي.

۷۴.	د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځینه کارکوونکو پر ورتګ باندې بندېز اوس شپږمې میاشت ته داخل شوی دی، چې د ماموریت پر ځواک باندې یې ناوړه اغیزه کړې چې وکولای شې د افغان ولس د ملاتړ لپاره خپلې دندې، پداسې یو وخت کې چې اړتیاوې هم خورا زیات دي، په بشپړ ډول سره ترسره کړي. د ملګرو ملتونو پرسونل او د بشري مرستو ټولو فعالینوته د بې له خنډه، پرته له تبعیضه او د جنډر پر بنسټ حساس لاسرسې ډاډمن کول خورا مهم دی تر څو وکولای شو تر ټولو زیات زیانمنېدونکو وګړو ته لاسرسي ولرو، او همدارنګه د ملګرو ملتونو او د هغه د همکارانو په واسطه د مداخلو بې پریتوب رعایت شي. بندیزونه د ملګرو ملتونو د میثاق او همدارنګه د ملګرو ملتونو او د هغه د پرسونل د امتیازاتو او معافیتونو څخه سرغړونه ده. زه د واکمنو چارواکو څخه غواړم چې بندېزونه بېرته وګرځوي او د ملګرو ملتونو ښځینه کارکوونکو ته اجازه ورکړي چې خپل کار ځایونو ته بېرته راستانه شي.

۷۵.	که څه هم د افغان ښځو او نجونو په وړاندې یو شمېر رسمي خنډونه شتون لري، د عملیاتي چاپېریال په خوندې ساتلو کې د افغان ښځو انعطاف پذیري او نوښت د ستاینې وړ دی. تر دې مهاله، ملګري ملتونه یو شمېر زیات افغان ښځو سره لېدنه ترسره کړې چې په ترڅ کې یې دوي د داسې یو ډار راپور ورکړي چې ګونډې نړیواله ټولنه دغه رسمي بندېزونو ته د یو "نوی حقیقت" په سترګه به وګوري، چې له امله یې د افغان ښځو لپاره د دوي ملاتړ کم شي. ډونران کولای شي د ښځو پر محور سازمانونو سره مرسته وکړي او د دوي د اړتیا وړ سرچېنو او مالي مرستې په لومړیتوب کې شامل کړي.

۷۶.	د اندېښنې وړ یو بل ډګر، د ۱۲ شمېره فرمان نافذ کېدل دی چې د ۲۰۲۶ کال د جنوري د میاشتې په ۸ نېټه خپور او د محاکمو لپاره د جزایي اصولنامې په تړاو دی چې په هغه کې داسې احکام شته کوم چې د دغه هېواد د نړیوالو بشري حقونو د مسؤولیتونو سره په ټکر کې دي، کوم چې دغه هېواد هغه ته ژمن دی. ملګري ملتونه او نور برخه وال د دغه فرمان د رسمي موقف په اړه او دا چې په څه ډول به پلې شي، د لا زیاتې پلټنې او وضاحت غوښتنه کړې ده.

۷۷.	د ملکي وګړو تلفات چې د پولو هغه خوا وسله وال تاوتریخوالې له امله رامنځته شوی دی، د یوې ژور اندېښنې په ډول پاتې دی. زه اړوند خواوې هڅوم چې د نړیوال قانون مطابق، د بشرپالنې نړیوال قانون په ګډون، خپل مسؤولیتونه رعایت کړي تر څو د ملکي وګړو خوندیتوب ډاډمن شي. زه د هغو منځګړیتوب هڅو هرکلی کوم چې د تنازع د مسلو لپاره د دوامداره حل لارې په لټه کې دې او دواړه خواوې هڅوم چې د دیپلوماسې له لارې خپل د توپیرونو لپاره دوامداره حل لاره ولټوي.

۷۸.	د پخوانې حکومت د ملي دفاعی او امنیتي ځواکونو پرسونل او د تېر حکومت د چارواکو غیر قانوني وژنې، خپل سري نیونې، شکنجې او بد چلند په اړه دوامداره راپورونه د ژورې اندېښنې وړ دي. پداسې حال کې چې د واکمن چارواکو د عمومي عفوی اعلان د یو مثبت تدبېر په توګه نافذ دی، خو باید په عمل کې هم دا ډول تعبیر شي چې ټولو اغیزمن شویو کسانو لپاره، د عمومي عفوی څخه د سرغړونو په اړوند د روښانه تحقیق په ترسره کولو سره، خوندیتوب چمتو کړي.

۷۹.	هغه تدبیرونه چې غواړي د رسنیو، خپرونې او آنلاین بیانات تنظیم کړی، د امر بلمعروف او نهې عن المنکر د قانون سره یوځای، په دوامداره توګه د بیان آزادی او معلوماتو ته د افغان وګړو لاسرسې محدودوي. یاد شوي محدودیتونه، د خلکو باور باندې اغیزه کوی، حسابورکونه محدودوي، د عام شمول ډیالوګ خنډ ګرځې او د پوهې او نظریو تبادله محدودوي کوم

چې په افغانستان کې د پراختیا او ټولنیز انسجام او اوږد مهاله ټیکاو لپاره اړین دی. د رسنیو زیات شمېر نهادونه د مالي خنډونو له امله بند شوي دي، او اضافي محدودیتونه، په ټولیز ډول، د رسنیو ژوند د ګواښ سره مخ کوي.

۸۰. د کوکنارو پر کښت باندې د واکمنو چارواکو بندیز چې د ۲۰۲۲ کال د اپریل په میاشت کې پلي شوی دی، په تېرو دریو کلونو کې په ټول هېواد کې د کوکنارو په کښت کې د ستر کموالي لامل شوی دی. دغه بندیز نړیوالې ټولنې ته ګټه ور محسوب کېږي که څه واکمنو چارواکو ته ستر لګښت لري چې هغه پلي کړي او د کوکنارو کروندګرو ته منفور دی ځکه چې دوي د اوږدې مودې لپاره د پیسو د سرچینې په ډول د دغه نامشروع محصول پر کښت باندې اتکاء درلودل. د یو کافي قانوني معیشت بدیل په نشتون کې، د کوکنارو پخواني کروندګر د عاید د چټک کمښت سره مخ شوي دي. د په نښه شوي معیشت بدیلونو، صحرايي زېربناو، مارکیټ ته لاسرسي، او د زیان پر کمولو پروګرامونو باندې زیاته پانګونه، د ډونرانو لخوا د پانګونې په ګډون، ډیر مهم دي تر څو هغه لاسته راوړنې دوامداره شي کوم چې د نشه اي توکو په وړاندې د ترسره شویو هڅو له امل رامنځته شوي دي.

۸۱. د ګاونډیو هېوادونو څخه د خپلې خوښې پرته د بېرته راستنېدولو ستره او چټکه کچه په دوامداره توګه سترې ننګونې رامنځته کوي. زیات شمېر بېرته راستنېدونکي کافي سرپناه، د ژوند لپاره معیشتونه او اسناد نلري پداسې حال کې چې کوربه ټولنې، د سرپناه، ځمکې او لومړنې خدمتونو د مخ پر زیاتېدو فشارونو سره مخ دي. د دوامداره ادغام او معیشت ملاتړ څخه پرته، د سترې کچې بېرته راتګ ګواښ بېوزلي، ټولنیز کړکېچونه او خوندیتوب، په ځانګړې ډول په ښاري سیمو کې، زیاتوي. زه پر غړو هېوادونو باندې غږ کوم چې خپل نړیوال مسؤلیتونه رعایت کړي، په ځانګړي ډول د خوندیتوب په اړوند، د خپلې خوښې بېرته راستنېدلو د اصل په ګډون، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې بېرته ستنېدل په خپله خوښه، امن، باوقاره او په ټولنو کې د بیا ادغام د دوامداره ملاتړ سره مل وي.

۸۲. د اندېښنې یو بل پاتې ډګر، د بشري په مرستو او انساني بنسټیز اړتیاو ته غبرګون کې د دومداره مالي مرستو کمښت دی چې د بشري همکارانو پر ځواک باندې فشار واردوي چې اصولي او د اړتیا بر بنسټ مرستې چمتو او وړاندې کړي. زه مکرراً د دوامدارې، وړاندوینې وړ او انعطاف پذیره نړیوالو مرستو پر اړیتا باندې ټینګار کوم چې باید د سولې، پراختیا او بشرپالنې پر محور باندې ولاړ د پیاوړې همغږي سره مل وي او وکولای شي بېړنۍ اړتیاوي، خپل اصلي حالت ته بېرته د راګرځېدل ملاتړ وکړي او د افغان وګړو لپاره د ژوندانه د وضعیت د لا زیات خرابیدو څخه مخنیوي کولو کې مرسته وکړي.

۸۳. پداسې حال کې چې د امنیت شورا د ماموریت پر دندو باندې غور کوي، دا به مناسبه وي چې د افغانستان په اړه د نړیوالې ټولنې عمومي اهداف یادونه وکړو، څرنګه چې د ۲۰۲۳ کال د نومبر په میاشت کې د افغانستان په اړوند خپلواکه ارزونه کې یاده شوې ده، (S/2023/856 ضمیمه) او د امنیت شورا د ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) ګڼه پریکه لیک کې د یوې پایلې په توګه بیا تایید شوی دی، "چېرته چې افغانستان په بشپړه توګه او پرته لدې چې د تاوتریخوالي یوه بله دوره تېره کړي، د نړیوالې ټولنې په سیستم کې مدغم شي، پداسې حال کې چې د خپل ټول حقوقي مسؤلیتونو درناوی وکړي". پدې اړوند د ملګرو ملتونو لخوا دایر شوي د دوحې پروسه، پدې لټه کې دی چې دغه اهداف مخ په وړاندی ولاړ شي، یوناما په دغه پروسه کې د یو مهم تسهیل کوونکي ونډه لوبوي. تېر څلورنیم کلونه وښودله چې واکمن چارواکي په کلکه هېواد تر خپل کنټرول لاندې لري. یو نسبي ټیکاو چې اوسمهال شتون لري د اقتصادي پراختیا لپاره بلقوه بنسټ دی، پداسې حال کې چې تر هغه مهاله پورې چې واکمن چارواکي د ټول افغان نارینه او ښځینه وګړي د انساني پانګې د بشپړ ظرفیت په مقابل کې بې تفاوته پاتې شي، دغه پراختیا نشي کیدای په بشپړ ډول سره تحقق ومومي.

۸۴. زه د دوحې پروسې پر ټولو غړو او واکمنو چارواکو باندې غږ کوم چې پدې خاطر چې د افغانستان د ولس د ګټې او په نهایت کې دغه هېواد د بشپړ ادغام په مقصد د لا زیات انسجام، همغږی شوی او رغنده تعامل ښکېل او ګټې ظاهرې شي، پر وړاندیز شوي هر اړخیز تګلارو باندې لا زیات تعامل وکړي. واکمن چارواکي هڅول شوي دي چې د یوناما سره د هر اړخیز تګلارې په اړوند، د لا زیات رغنده تعامل په موخه یو میکانېزم رامنځته کړی. په دغه عرصه کې د نه پرمختګ او یا د یو متبادل تګلارې نشتون په صورت کې، د افغان وګړو لپاره او همدارنګه د سیمې ثبات لپاره عواقب به زیات شي. د ماموریت هڅې د نړیوال ممد تعامل په راجلبولو کې ډېر مهم دي.

۸۵.	زه خپل ژور قدرداني په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو ته وړاندې کوم چې د ماموریت د سرپرستۍ، او زما د ځانګړي استازی سیاسي مرستیاله جورجیت ګانیون تر مشرۍ لاندې او زما د ځانګړی استازي مرستیال، مېشت او د بشري مرستو همغږي کوونکې اندریکا رتواتِ سره، په دوامداره توګه او اخلاص د افغانستان د خلکو لپاره، د ننګونو څخه یو ډک چاپېرال کې، خپلې دندې ترسره کوي.

---------------